The CENTER for VICTIMS of TRAUMA
راحت پروژه

# د راحت پروګرام



په **راحت پروګرام** کې، أصلي لومړيتوب **تاسو (مراجعينو)** یاست. زموږ په خدماتو کې د ټولنيز ملاتړ ګروپونه ساتل، انفرادي مشوره ورکول، کورنۍ مشوره ورکول، د ماشومانو مشوره ورکول، ډله ايزي مشوري، رواني درملنه، او د کور، کارموندنې، او روغتيا او تعليم خدماتو ته د لاسرسي په برخو کې ټولنيز خدمتونه وړاندې کول شامل دي.

موږ کار کوو ترڅو تاسو ځواکمن کړو او تاسی اړين ملاتړ ترلاسه کړئ او په ځان بسيا شئ.



## موږ سره اړیکه ونیسئ

که تاسو یا تاسو د افغانستان څخه یو ځوک پيژنئ چې په دې وروستيو کې مينيسوټا ته راغلی او مرستې ته اړتيا لري، **د راحت پروژه (Raahat Project)** ستاسو په خدمت کې ده.

موږ به له تاسو سره کار وکړو ترڅو دلته د خپل ځان لپاره ښه او غوره راتلونکی جوړ کړو.

## د اړیکې معلومات


ټيليفون: **612-515-7680**
ایمیل: **Mahdi.Surosh@cvt.org**
ویب پانه: **www.cvt.org**

## موږ څوک یو؟

د راحت پروګرام د سی.وی.ټی (CVT) موسسه تر چتر لاندې فعالیت کوي. موږ یو متعهد او مسلکي ډله یو چې په انفرادي ډول، ډلېز او کورنۍ کې مختلف ټولنیز او رواني روغتیا خدمتونه وړاندې کوو. د هغو افغانانو د ستونزو په ژور درک سره چې په دې وروستیو کې د مینیسوټا په ایالت کې میشت شوي دي، موږ هوډ لرو چې د بیارغونې، انعطاف او ټولنیز ادغام د ودې لپاره خپلو مراجعینو ته په درناوي او وقار سره خدمت وکړو.

## زموږ خدمتونه د چا لپاره دي؟

د راحت پروګرام خدمتونه د هغو افغانانو او کورنیو سره د مرستې لپاره ډیزاین شوي چې په دې وروستیو کې مینیسوټا ته رسیدلي دي. موږ د خپلو مراجعینو ځانګړو اړتیاوو باندې پوهیږو او ورنه درناوی کوو او زموږ ژمنتیا دا ده چې هغه خدمات چمتو کړو چې واقعا د دې اړتیاو سره سمون لري. موږ د نژاد، ژبې، جنسیت، عمر، مذهب او ملیت په پام کې نیولو پرته ټولو وړ خلکو ته خدمتونه وړاندې کوو.

## کلتور او ژبه

زموږ خدمتونه د مراجعینو له کلتوري او ژبني ارزښتونو سره سم دي او په دري/فارسي او پښتو ژبو وړاندې کیږي. موږ د خپلو خدماتو په ټولو اړخونو کې کلتوري ملاحظات شاملوو ترڅو د مراجعینو لپاره دا اسانه کړو چې په مینیسوټا کې خپل نوی ژوند د ذهن په آرامۍ سره پیل کړي.

## زموږ خدمتونه

### ۱. د ټولنیز ملاتړ ډلې

موږ د مختلفو عمرونو او ګروپونو لپاره د شخصي ودې، د نوي چاپېریال سره بلد آشنا کولو او د افغانستان د خلکو د هوساینې لپاره د 8-10 اونۍ ناستې ترسره کوو چې مینیسوټا ته رسیدلي دي. زموږ غونډې د موضوعاتو پراخه لړۍ پوښي – په شمول په نوي ټولنه کې د اړیکو جوړول، کلتوري سمون، عمومي روغتیا، د هدف ترتیب، د ماشومانو روزل، او د یوې سالمې ټولنې جوړول. دا غونډې د شریکو بنسټونو سره په همغږۍ ترسره کیږي.

## مشوره ورکول

په راحت پروګرام کې، موږ متخصص، مهربان او تجربه لرونکي مشاورین، رواني معالجین، او ارواپوهان لرو چې په مینیسوټا کې د مهاجرینو او کډوالو، په ځانګړې توګه د افغانستان خلک، د ننګونو سره مخ دي. مشاورین کولی شي تاسو سره د مسلو په حل کې مرسته وکړي لکه د خوب ستونزې، ویره، فشار یا ورځني فشارونه، او نور. موږ دلته یو چې ستاسو په نوي کور (USA) کې د ښه او آرامۍ احساس کولو کې ستاسو ملاتړ وکړو.

## ټولنیز خدمتونه

ژوند کول او له نوي چاپیریال او ټولنې سره تطابق کوم اسانه کار نه دی. زموږ د خدماتو له لارې، موږ کولی شو له مراجعینو سره په برخو کې مرسته وکړو لکه د کور موندلو، کار موندلو، روغتیا او زده کړې ته لاسرسی، او نور ټولنیز خدمتونه. د ټولنیزو خدمتونو د وړاندې کولو موخه دا ده چې له مراجعینو سره په اوږد مهال کې د ښې راتلونکې او په ځان بسیاینې کې مرسته وکړي.